د افغانستان د جمهوري دولت رسمي خپرونه

# رسمی جریده

## قانون بیمه

دوه ویشتمه گڼه

پرله پسی لمبر (۲۸۹)

نیټه: شنبه د۱۳۵۳ کال دلیندی دمیاشتی «۳۰»

دامتیاز خاوند : دعدل وزارت
مسؤول مدیر : م . حسین (طغیان)
مرستیال: ع. حبیب (امین)

پته:دعدل وزارت کابل،افغانستان

د افغانستان د جمهوریت رسمی جریده

باساس مصوبه مجلس وزرای مورخ

۱۱/۱/۱۳۵۷ منتشره جریده رسمی

۴۳۰ ازین قانون لغو بیان شد.

# دعظمی صدارت د ۱۳۵۳ کال د لیندی د میاشتی د لسمی نیټی (۹۶۰) گڼه فرمان

**ښاغلی داکتر عبدالمجید عدلیه وزیر**

د وزیرانو مجلس په ۷۳۱ گڼه فیصله کښی د ۱۳۵۳ کال د لږم ، میاشتی داومی نیټی په غونډه کښی د تجارت د وزارت د تلی د میاشتی لسمی نیټی ۲۵۷ گڼی عرض پاڼی ته په کتنه د بیمی قانون په هکله لاندی مراتب تصویب کړل :

« د بیمی قانون په اته فصلونو شپږ پنځوس مادو کښی دننه چه ، دارالنشاء مهر پری لگید لی دی منظور دی . »

د وزیرانو د عالی مجلس مراتب چه د افغانستان د جمهوری دولت د رئیس د حضور د منظوری په شرف رسیدلی اود ۱۳۵۳ کال د لیندی د میاشتی د شپږمی نیټی په (۲۱۰۹) گڼه کښی ثبت شوی دی، تاسی ته خبر درکړ شو تر څو یی په رسمی جریده کښی خپریدو ته اقدام وشی.

**داکتر محمد حسن شرق**

دارالانشاء رسیده منظور است . »

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء که به شرف منظوری حضور رئیس دولت جمهوری افغانستان رسیده وبه شماره (۲۱۰۹) مورخه ۱۳۵۳/۹/۶ ثبت گردیده بشما اطلاع داده شد تادر نشر آن به جریده رسمی اقدام گردد.

**داکتر محمد حسن شرق**

د افغانستان دجمهوریت رسمی جریده

# د عظمی صدارت د ۱۳۵۳ کال د لیندۍ د میاشتې د لسمې نیټې (۹۶۰) گڼه فرمان

**ښاغلی داکتر عبدالمجید عدلیه وزیر!**

د وزیرانو مجلس په ۷۳۱ گڼه فیصله کښې د ۱۳۵۳ کال د لړم د میاشتې د اومې نیټې په غونډه کښې د تجارت د وزارت د تلې د میاشتې د لسمې نیټې ۲۵۷ گڼې عرض پاڼې ته په کتنه د بیمې قانون په لاندې مراتب تصویب کړل:

« د بیمې قانون په اته فصلونو او شپږ پنځوس مادو کښې دننه چه د دارالنشاء مهر پرې لگیدلی دی منظور دی.»

د وزیرانو د عالی مجلس مراتب چه د افغانستان د جمهوری دولت د رئیس د حضور د منظورۍ په شرف رسیدلی او د ۱۳۵۳ کال د لیندۍ د میاشتې د شپږمې نیټې په (۲۱۰۹) گڼه کښې ثبت شوی دی، تاسې ته خبر درکړ شو تر څو یې په رسمی جریده کښې خپریدو ته اقدام وشی.

**داکتر محمد حسن شرق**

# فر[illegible] (۹۶۰)

## مورخه ۱۰ر۹ر۱۳۵۳

## صدارت عظمی

**ښاغلی دکتور عبدالمجید وزیر عدلیه!**

مجلس وزراء تحت فیصله شماره (۷۳۱) در جلسه تاریخی ۷ر۸ر۱۳۵۳ با ملاحظه ورقه عرض شماره (۲۵۷) مورخ ۱۰ر۷ر۱۳۵۳ وزارت تجارت راجع به قانون بیمه مراتب آتی را تصویب نمود:

«قانون بیمه بداخل هشت فصل و پنجاه و شش ماده که بمهر دارالانشاء رسیده منظور است.»

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء که به شرف منظوری حضور رئیس دولت جمهوری افغانستان رسیده و به شماره (۲۱۰۹) مورخه ۶ر۹ر۱۳۵۳ ثبت گردیده به شما اطلاع داده شد تا در نشر آن به جریده رسمی اقدام گردد.

**داکتر محمد حسن شرق**

# جریده رسمی

## د بیمې قانون

### لمړی فصل

### عمومي حکمونه

#### لمړی ماده

دغه قانون دبیمې دچارو دتنظیم په منظور وضع کیږي .

#### دوهمه ماده

په دې قانون کې لاندې اصطلاحات لاندني معناوې لري :

۱ـ دبیمې شرکت ـ هغه موسسه ده چه دپیښې د پیښېدو په صورت کښې دهغه تعهد په اساس چه د مشتري سره یې کړیدی اوښتي زیان جبران کوي .

۲ـ بیمه: هغه عقد دی چه دهغه په موجب د بیمې شرکت دټاکلي حق البیمې داخستلو په مقابل کښې مشتري ته د اوښتي زیان دجبران تعهد کوي .

۳ـ دبیمې بدل ـ هغه وجه یا ګټه ده چه دپیښې دپیښېدو یا خطر په صورت کښې یې مشتري ته ورکوي .

۴ـ د بیمې موضوع ـ هغه پیښې او خطرونه دي چه مشتري دهغو په مقابل کښې دبیمې دشرکت تعهد حاصلوي .

## قانون بیمه

### فصل اول

### احکام عمومی

#### ماده اول

این قانون به منظور تنظیم امور بیمه وضع می‌گردد

#### ماده دوم

اصطلاحات ذیل در این قانون معانی آتی را دارد .

۱ـ شرکت بیمه: موسسه ای است که در صورت وقوع حادثه باساس تعهد یکه با مشتری نموده خساره وارده را جبران مینماید .

۲ـ بیمه : عقدی است که به موجب آن شرکت بیمه در مقابل اخذ حق البیمه معین جبران خساره وارده را برای مشتری تعهد می کند .

۳ـ بدل بیمه : وجه یا منفعتی است که درصورت وقوع حادثه یاخطر به مشتری پرداخته میشود.

۴ـ موضوع بیمه : حوادث و خطراتی است که مشتری تعهد شرکت بیمه رادر برابر آنها حاصل میکند .

۵ـ مشتری ـ هغه حقیقی یاحکمی شخص دی چه دبیمی شرکت دهغه په گټه ځنی تعهدات پای ته رسوی .

**دریمه ماده**

دبیمی عقد دلاندی پیښو اوخطرونو په مقابل کښی صورت مومی :

۱ـ فضایی ـ ځمکنی او بحری حمل او نقل .

۲ـ اور ـ غلا ـ جسمی روغتیا او سلامتیا .

۳ـ غیر مترقبه طبیعی پیښی لکه زلزله ـ طوفان او داسی نور ،

۴ـ د عرادجاتو اود واټ دترافیک تګ .

۵ـ په صنعتی مؤسسو کښی د کار پیښی .

۶ـ پولی ، حقوقی او مالی غوښتنی .

۷ـ زراعتی محصولات .

**دوهم فصل**

**جوړیدل او اداره**

**ځلورمه ماده**

دبیمی د شرکتونو دجوړولو اجازه دتجارت د وزارت لهخوا د وزیرانو دعالی مجلس له منظوری نه وروسته ورکول کیږی .

د بیمي شرکتونه دتجارت دقانون داحکامو سره سم ثبت اود تجارت د

۵ ـ مشتری : شخص حقیقی یا حکمی است که شرکت بیمه بنفع او تعهداتی را انجام میدهد.

**ماده سوم**

عقد بیمه در مقابل حوادث و خطرات آتی صورت میگیرد .

۱ـ حمل ونقل فضائی ،زمینی وبحری .

۲ـ حریق ،سرقه ،صحت و سلامت جسمی.

۳ـ حوادث طبیعی غیر مترقبه ازقبیل زلزله، طوفان و امثال آن .

۴ـ سیر عراده جات وترافیک جاده .

۵ـ حوادث کار در موسسات صناعتی .

۶ ـ طلبات پولی وحقوقی مالی .

۷ ـ محصولات زراعتی .

**فصل دوم**

**تاسیس واداره**

**ماده چهارم**

اجازه تاسیس شرکتهای بیمه از طرف وزارت تجارت بعدازمنظوری مجلس عالی وزراء اعطا میگردد .

شرکت‌های بیمه مطابق احکام قانون تجارت ثبت وتحت نظر

وزارت د څارنې د څانګې تر نظر لاندې فعالیت کوي .

دڅارنې د څانګې واك او دندې د مقرراتو په واسطه تنظمیږي .

**پنځمه ماده**

دبیمې فعالیت یواځې دهغو حکمي اشخاصو په واسطه چه ددغه قانون داحکامو سره‌سم تاسیس شوي دي پای ته رسیږي. دبیمې په چارو پوختیدل دبیمې‌په ساحه‌کښې ددلالي او کمیشنکاري په خدماتو کښې هم شامل دي .

**شپږمه ماده**

د بیمې د شرکتونو دجوړولو په جواز پاڼو کښې لاندې موضوعات درجیږي .

۱ـ دفعالیت مجازه ساحه چه په دریمې ماده کښې دمندرجوموضوعاتو څخه‌په یوې‌یا څو موضوعاتو کښې شامله‌وي .

۲ـ د موسسې مقر اود هغې د نمایندګیو مرکز .

۳ـ دجواز پاڼې داعتبار موده .

**اومه ماده**

که چیرې دبیمې شرکت په افغانستان کښې خپل فعالیت دبیمې دبل شرکت په واسطه بیا بیمه کوي مکلف دي چه له موضوع څخه دتجارت دوزارت د څارنې څانګه‌خبره

شعبه نظارت وزارت تجارت‌فعالیت می کند .

صلاحیت ووظایف شعبه‌نظارت توسط مقررات تنظیم میگردد .

**ماده پنجم**

فعالیت بیمه صرف توسط اشخاص حکمی که مطابق احکام این قانون تاسیس یافته باشند ، انجام می یابد. اشتغال به امور بیمه شامل خدمات دلالی وکمیشنکاری در ساحه بیمه نیز می‌باشد .

**ماده ششم**

در جواز نامه تاسیس شرکتهای بیمه موضوعات آتی درج‌میگردد.

۱ ـ ساحه مجاز فعالیت که شامل یك یاچند از موضوعات مندرج ماده سوم بوده میتواند .

۲ ـ مقر موسسه ومرکز نمایندگی های آن .

۳ ـ مدت اعتبار جواز نامه .

**ماده هفتم**

هرگاه شرکت بیمه فعالیت‌خود را در افغانستان توسط یك‌شرکت دیگر بیمه مجدد می نماید مکلف است از موضوع شعبه نظارت وزارت تجارت را آگاه سازد واگر

کاندی. او که چیری یی قرار دادعقد کړی وی دنوموړی بیمی دقرار داد کاپی دی ورته وسپاری .

**اتمه ماده**

دبیمی شرکت لږتر لږه د (پنځلس میلیونه )افغانی په ورکړل شوی پانگی جوړیږی .

**نهمه ماده**

دبیمی د شرکت مجاز او ورکړل شوی پانگه دبیمی دشرکت دمراسلاتو او فورمو په سر خطو نو کښی درجیږی .

**لسمه ماده**

دبیمی دشر کت حسابی چا ر ی هر کال دهغو بین المللی جواز لرونکو محاسبینو له خوا چه فعالیت یی په افغانستان کښی دمالیی دوزارت د تائید وړ گرځیدلی وی بررسی او تصدیق کیږی .

**یوولسمه ماده**

دتجارت وزارت کولای شی چه په هغو وختونو کښی چه لازم و بولی دبیمی دشرکت شتمنی او حسابونه وپلټی. که چیری ددی پلټنی په پای کښی ولیدل شی چه دشرکت پانگه او طلبات دشرکت دمنعقد شویو قراردادونو څخه درا ولاړ شویو

قرار دادی عقد نموده با شد کاپی قرار داد بیمه مذکور رابه آن بسپا رد.

**ماده هشتم**

شر کت بیمه به سر مایه تادیه شده حد اقل (پانزده ملیو ن افغا نی) تاسیس میگردد .

سرمایه شرکتهای بیمه ملی بو ده حد اقل (۵۱) فیصد آنرا سهم دولت تشکیل میدهد.

**ماده نهم**

سرمایه مجاز وسرمایه تادیه شده شرکت بیمه در سر نامه مراسلات وفورمه های شر کت بیمه درج میگر دد .

**ماده دهم**

امور حسابی شرکت بیمه همه ساله از طرف محاسبین واجد جواز بین المللی که فعالیت آنها از طرف وزارت مالیه در افغانستان مورد تائید قرار گرفته باشد بررسی و تصدیق میگردد .

**ماده یازدهم**

وزارت تجارت میتواند درمواقعیکه لازم داند دارائی وحسابات شرکت های بیمه را تفتیش نماید هرگاه در نتیجه این تفتیش ملاحظه گردد که سرمایه و طلبات شرکت کفایت پرد خت وتادیه جمیع مسئولیت های

ولو مسؤلیتونو دورکولو بسنه‌نشی کولای، د ړنګید لو دلیل یی کیدلای شی .

**دولسمه ماده**

دبیمی شرکت مکلف دی چه په هرو دری میاشتو کښی دبیمی‌دهغو مقاولو مکمل راپور چه په دی موده کښی یی عقده کړی دی دتجارت دوزارت د څارنی څانګی ته ولیږی. په دی راپور کښی لاندی معلو مات درجیږی .

۱ــ دمشتری نوم .
۲ــ دبیمی موضوع .
۳ــ دمقاولی داعتبار موده .
٤ــ دحق البیمی اندازه .

**دیارلسمه ماده**

ترهغه وخته پوری چه عمـــو می ذخیره دور کـړل شوی پانـګی دوه برابره نشی د بیمی شر کت نشی کولای چه دګټی په ویش لاس‌پوری کړی .

که چیری دبیمی دقرارداد نـه د را ولاړو شوو مطالباتو په پای‌کښی ذخیره دپورتنی ذکر شوی‌حد نـه کمیږی ، شرکت مکلف دی چــه د نوموړی ذخیری پـــوره کولو پسی شـــی .

ناشی ازقرارداد های منعقده شرکت راکرده نمیتواند دلیل بر انحلال آن شده میتواند .

**ماده دوازدهم**

شرکت بیمه‌مکلف‌است هرسه‌ماه راپور مکمل مقاوله های بیمه راکـه در طول اینمدت عقد نموده به شعبه نظارت وزارت تجارت بفرستند در ایـن راپـور معلو مـات ذیل درج میگردد .

۱ــ اسم مشتری .
۲ــ موضوع بیمه .
۳ــمدت اعتبار مقاو له .
٤ــ اندازه حق‌البیمه .

**ماده سیزدهم**

تا زمانیکه ذخیره عمومی‌بدو چند سرمایه تادیه‌شده نرسد شرکت‌های بیمه نمیتوانند به توزیع مفـاد اقدام ورزند .

هر گاه در نتیجه مطالبات ناشی از قرار داد بیمه ذخیره از حدمذکور فوق تقلیل می‌یابد شرکت مکـلف است باکمال ذخیـره مـــذ کــور بپردازد .

**خوار لسمه ماده**

د بیمی شرکت دخپل استعمال وړتولو فورمو او پاڼو یوه یوه نسخه دتجارت دوزارت د څارنی څانگی ته ورکوی .

که چیری نوموړی پاڼی او فورمی ددغه قانون اود تجارت دقانون د حکمونو سره سمون ونه لري او یا دهغو بڼه او مندرجاتو داسی وی چه دبیمی دقرار داد دهدف سره توپیر ولنیږي. د څارنی څانگه کولای شی چه دهغو استعمال منع کړی او یا په هغو کښی لازم سمون وارد کاندی .

**پنځلسمه ماده**

په هغو حالاتو کښی چه دبیمی شرکت ددغه قانون اویاد تجارت د قانون دموادو د حکمونو سره سم ړنگیږی دهغو مقاولو په هکله چه د ړنگیدو تروخته عقد شوی دی په لاندی ډول کړنه کیږی .

که چیری شرکت، مشتری او بله هغه موسسه چه دبیمی په فعالیت وخته‌وی موافقه وکړی، دبیمی‌جاری مقاولی نوموړی موسسی ته انتقال کوی .

که چیری دبیمی د مقاولی انتقال ممکن نه‌وی دبیمی مقاوله فسخه کیږی .

**ماده چهاردهم**

شرکت بیمه یك‌یك نسخه‌ازتمام فورمه ها واوراق مو رد استعما ل خود را بدسترس شعبه نظارت وزارت تجارت میگذارد .

هرگاه اوراق وفورمه های مذکور باموا د این قانون واحکام قانو ن تجارت مطا بقت ندا شته با شد ویا شکل و مند رجا ت آنها طوری باشد که‌با هدف‌قرارداد بیمه مغایرت نشان دهد شعبه‌نظارت میتواند استعمال آنهارا منع قرار دهد ویا اصلاحات لازم را در آنها وارد سازد .

**ماده پانزدهم**

در حالاتیکه شرکت بیمه طبق احکام این قانون ویا مواد قانون تجارت منحل میگردد درباره مقاوله هائیکه تازمان انحلال عقد گردیده طبق آتی اجرا ات بعمل می‌اید .

هرگاه شرکت مشتری و موسسه دیگریکه به فعالیت بیمه اشتغال داشته باشد موا فقت نمایند مقاوله های جاری بیمه بموسسه مذکور انتقال مینماید .

هر گاه انتقال مقاوله بیمه ممکن نباشد مقاو له بیمه فسخ می گردد .

# جریده رسمی

## شپاړسمه ماده

دبیمې دشرکت په ړنګیدلو او تصفیې پوری تړلې چاری، دتجارت دقانون دحکمونو سره سمي دتجارت دوزارت تر نظر لاندې اداره کیږی .

## دریم فصل

## د بیمې عقد

### اوه لسمه ماده

دبیمې عقد په لیکلی ډول صورت مومې. هغه سند چه دغه عقدتثبیتوی دبیمې مقاوله(دبیمې پالیسی) بلل کیږی هغه پاڼې او فورمې چه ددغه عقد په ترتیب کښې پکار یږی دهغه ضمایم تشکیلوی. دبیمې مقاوله په دوه نسخو کښې تر تیبیږی یوه نسخه یې دبیمې دشرکت سره اوبله نسخه یې دمشتری سره وی .

### اته لسمه ماده

دبیمې په مقاوله کښې د لاندې مطالبو درجول ضروری دی :

— دمقاوله دعقد نیټه .

— دبیمې دشرکت او مشتری نوم اوپته .

— دمقاولې داعتبار موده .

— حق‌البیمه اود ور کړې ځای یې .

— دبیمې بدل .

—هغه‌پیښې او خطرات چه دبیمې‌عقد ورته متوجه‌وی .

## ماده شانزدهم

امور مربوط به انحلال و تصفیه شرکت بیمه طبق‌احکام قانون‌تجارت تحت نظر وزارت تجا رت اداره میگردد .

## فصل سوم

## عقد بیمه

### ماده هفدهم

عقد بیمه تحریری صورت‌میگیرد سندیکه این عقد را تثبیت مینما ید مقاوله بیمه ( پالیسی بیمه) یاد میگردد. اوراق وفورمه هائیکه جهت ترتیب این عقد بکار میرود ضمایم آنرا تشکیل میدهد مقاوله بیمه در دونسخه ترتیب میشود یك نسخه آن نزد شرکت بیمه ونسخه دیگران نزد مشتری میباشد .

### ماده هژدهم

در مقاوله بیمه درج مطالب آتی حتمی است .

— تاریخ عقد مقاوله .

— اسم و آدرس شرکت بیمه ومشتری .

— مدت اعتبار مقاوله .

— حق البیمه ومحل پرداخت‌آن .

— بدل بیمه .

— حوادث وخطرا تیکه عقد بیمه متوجه آن میباشد .

# رسمی جریده

کەچیری بیمه دیورتنیو مندرجاتو څخه کوم یو ونه لری، په رسمی او دولتی مراجعو کښی د اعتبار وړ سند په حیث نشی بښودل کیدلای. سره له دی هم تر هغه ځایه پوری چه ددواړو خواو په روابطو پوری تعلق پیدا کوی دمقاولی اعتبار له منځه نهځی.

## نو لسمه ماده

دهغی مودی په اوږدو کښی چه د بیمی دمقاولی اعتبار دوام لری، عین مال دعین خطر په مقابل کښی دبل شرکت په وا سطه نشی بیمه کیدلای .

## شلمه ماده

داور په بیمه کښی داتلسمی مادی پهمندرجاتوبرسیره، دودانی ځایاود جوړ ښت ډول یی په مقاوله کښی ذکر کیږی .

## یوویشتمه ماده

دحمل ونقل په بیمه کښی داتلسمیمادی پرمطالبو برسیره لاندی مسایل هم په مقاوله کښی درجیږی .

۱ــ نقلیه وسایل او مواصلا تی کرښی .

۲ــ دحمل ونقل دمودی قیدول، په هغه صورت کښی چه دواړو خــواو غوښتی وی .

۳ــ دانتقالوړشیانو دسپارلوځای.

هرگاه مقاولهٔبیمهفاقدیکیازمندرجات فوق باشد بحیث یـك سند قابـل اعتبار در مراجــع رسمی و دولتــی ارائه شده نمیتواند .

معهذا اعتبار مقاوله تا جائیکهبه روابط طرفین تعلق میگیرد از بیــن نمیرود .

## ماده نزدهم

در طول مــد تیکه اعتبار مقاولهٔ بیمهدوامدارد عینمال را دربرابرعین خطر نمیتوان توسط شرکت دیگری بیمه نمود .

## ماده بیستم

در بیمه حریق علاوه برمندرجات ماده (۱۸) مــو ضع تعمیر و نــوع ساختمان آن نــیز در مقاوله ذکــر میگردد .

## ماده بیست یکم

دربیمه حملونقل علاوه بر مطا لب ماده (۱۸) مسایل ذیلنیز درمقاوله در ج میگردد :

۱ــ و سایــل نقلیه و خــطـوط مواصلاتی .

۲ــ قید مــدت حمل و نــقل در صور تیکه طرفین آنــرا خــوا سته باشند .

۳ــ محل تحویلدهی اشیای مورد انتقال .

**دوه ویشتمه ماده ـ**

که چیری دبیمې شرکت دمقاولې یا یې د ضمایمو په مندر جاتو کښې تغیرات وارد کاندې اوله دغوتغیراتو څخه د څارنې څانگې ته خبر ورنه کړي، شرکت پخپله گټه په نوموړو تغیراتو استناد نشي کولای خود شرکت په خلاف له هغو څخه گټه اخستل کیدلای شي .

**ماده بیست ودوم**

هرگاه شرکت بیمه در مندر جات مقاوله ویاضمایم آن تغییراتی وارد نماید وازین تغییرات به شعبه نظارت خبر ندهد شرکت بنفع خود به تغییرات مذ کور استناد کرده نمیتواند اما علیه شرکت به آن استناد شده میتواند .

**درویشتمه ماده**

دبیمې عقد دمالونو په برخه کښې دخاوند اویاد هغو اشخاصو له خوا منعقد کیږي چه دمر تهن (گرو اخستو نکی) مستا جر (اجاره اخستو نکی) په نوم اویادبل کوم قانوني صفت په درلودلو سره د مال ساتل په غاړه ولري .

**ماده بیست وسوم**

عقد بیمه درمورد اموال ازطرف مالک ویا اشخاصی منعقد میگردد که به عنوان مرتهن (گرو گیرنده) مستاجر (اجاره گیرنده ویا باداشتن صفت قانونی دیگری مسئولیت حفظ مال را برعهده داشته باشند .

**څلر ویشتمه ماده**

دبیمې عقد وکالتا دبل شخص په نوم او حساب منعقد کید لای شي. په دې صورت کښې دبیمې مقاوله د وکالت داحکامو تابعه ده .

که چیرې د بیمې دمقاولې له شرطونو څخه ونشي پوهیدلای چه مقاوله دبل شخص په نوم اوحساب منعقده شوېده ، داسې گڼل کیږي چه‌مقاوله د عاقد شخص په نوم او حساب منعقده شوېده .

**ماده بیست وچهارم**

عقد بیمه وکالتاء بنام و حساب شخص دیگری منعقد شده میتواند درینصورت مقاوله بیمه تابع احکام وکالت میباشد .

هرگاه از شرایط مقاوله بیمه استفهام شده نتواند که مقاوله بنام وحساب شخص دیگری منعقدگردیده است چنین محسوب میشود که‌مقاوله بنام وحساب شخص عاقدمنعقد شده است .

**پنځه ویشتمه مــــاده**

که چیری دمرتهن لهخواد هغـه مال په نسبت چه ورسره د تضمین په ډول ایښودل شوی دی دبیمیعقد منعقد شی، دزیان داوښتلوپه وخت کښی دهغه ډیور تر میزانه پـوری‌د بیمی بدل ده تـــه او پاتی‌یی دمال خاوند ته ورکول کیږی .

**شپږ ویشتمه ماده**

دقانــون په خلاف یا د عمومـــــی آدابو څخه مغایرو اعمالو نه راولاړ شوی زیان بیمه کیدلای نشی .

**اوه ویشتمه ماده**

کهچیری دبیمی موضوع مـــال وی دبیمی شرکت چه هروخت غوښتی وی کـــولای شی چـــه هغه معاینه کاندی .

**اته ویشتمه ماده**

د مقاولی دواړه خـــواوی مکلفیت لری چه دعقد دانعقاد په وخت کښی له ټولو هغو خصو صیاتو اوجزئیاتو څخه چه دهغو دمسؤلیت د زیاتوالی یاسپکوالی موجب کیږی مقابل‌لوری خبر کاندی .

**نه ویشتمه ماده**

دبیمی مقاوله د دولت د صکوکـــو دورکړی تابع ده. دغه صکوك چـــه نیمایی یی د مشتـــری پـــه غاړه دی‌د بیمی دشرکت پـــه وا سطه ورکول کیږی .

**ماده بیست وپنجم**

هرگاه عقد بیـمه توسط مـرتهن (گروگیرنده) نسبت بمالیکه نزداو بحیث تضمین گذاشته شده منعقد گردد هنگام حدوث خساره بدل بیمه تـا میزان طلب اوبوی پرداخته شده و متباقی آن بـــه مالك مال تادیـه میگردد .

**ماده بیست وششم**

خسارات ناشی از اعمال خـلاف قانون یامغایر اداب عمومی بیمه‌شده نمیتواند .

**ماده بیست وهفتم**

اگر مـو ضوع بیمه مـال باشد شرکت بیمه میتواند هـــر وقتیکه خواسته باشد آنرا معاینه‌کند .

**ماده بیست وهشتم**

طرفین مقاوله‌مکلفیت دارندهنگام انعقاد عقد از تـمام خصو صیات و جزئیاتیکه موجب تزئید یا تخفیف مسئولیت آنها میگردد طرف مقابل را آگاه سازند .

**ماده بیست ونهم**

مقاوله بیمه تابع پرداخت صکوك دولت میباشد این صکوك‌که مناصفه آن برذمـه مشتری میباشد تـوسط شرکت بیمه تادیه میگردد .

## خلورم فصل
## دحق‌البیمې ورکړه

### دیرشمه ماده

مشتري د هغې مقاولې سره سم چه دبیمې له شرکت سره عقدوي ټاکلی حق‌البیمه ورکوي، ټول اود ورکولو څرنګوالی‌یې په‌مقاوله کښې پیشبیني کیږي .

حق البیمه په نغد ټول د مقاولې‌په سر کښې دبیمې داعتبار دمودې سره متناسب په یو وار ور کول کیږي .

### یو دیرشمه ماده

د شرکت په ګټه دحق البیمې د ورکړې استحقاق له هغې نیټې نه تثبیتیږي چه‌دبیمې دشرکت‌مسؤلیت دمشتري په مقابل کښې شروع کیږي .

### دوه دیرشمه ماده

حق البیمه دمشتري داوسیدلو په ځای‌کې پداسې ټول چه‌په مقاوله کښې ذکر کیږي ورکول کیږي سره له‌دې هم دواړه خواوې کولای شي‌چه دشرکت مقر او یایې دنمایندګیو مرکز کښې دحق‌البیمې په ورکړه موافقت وکړي .

### دري دیرشمه ماده

دحق‌البیمې د نه ور کو لو په صورت کښې دبیمې شر کت حق لري چه

## فصل چهارم
## پرداخت حق‌البیمه

### ماده سی‌ام

مشتری طبق‌مقاوله ایکه‌باشرکت بیمه عقد مینماید حق‌البیمه معین را میپردارد نوعیت وطرز پرداخت‌آن در مقاوله بیمه پیشبینی میشود .

حق‌البیمه نقدا در آغاز مقاوله متناسب بامدت اعتبار بیمه یکدم پرداخته میشود .

### ماده سی ویکم

استحقاق پر داخت حق‌البیمه‌بنفع شرکت از تاریخی تثبیت میگردد که مسئولیت شرکت بیمه در برابر مشتری آغاز می یابد .

### ماده سی ودوم

حق‌البیمه درمحل اقامت مشتری بنحو یکه در مقاوله ذکر میگردد پرداخته میشود‌معهذاطرفین‌میتوانند به پرداخت حق البیمه‌در مقرشرکت ویا مرکز نمایندگیهای آن موافقت نمایند .

### ماده سی وسوم

درصورت عدم پر داخت‌حق‌البیمه شرکت بیمه حق دارد آنرا ازدرک

جمغه دبیمی لاندی مال نه واخلی د بیمی مال دشرکت د حقوقو دتامین لپاره درهن حکم لری دنوموړی مال نه دبیمی دشرکت دحقوقو ورکړه نسبت نورو پور وړو ته لمړی گڼل کیږی .

دبیمی دټول ډول عقودو لپاره دحق البیمی دحدودو (فهرست) دتجارت دوزارت له خوا ترتیب اود بیمی شرکتونو ته خبر ورکول کیږی .

## پنځم فصل

## دبیمی بدل

### خلور دیرشمه ماده

دبیمی بدل دبیمی دموضوع په تناسب ټاکل کیږی. که چیری دبیمی دمقاولې داعتبار په اوږدو کښی مال ارزښت په سلو کښی له لسو نه زیات راښکته شی. دبیمی شرکت حق لری چه په متناسب ډول دبیمی بدل لږ کاندی. په دی صورت کښی حق البیمه خپله پخپله په هماغه تناسب را ښکته کیږی .

### پنځه دیرشمه ماده

دبیمی دشرکت مسؤلیت د پیښی نه وړمبی او بی له ځنډه دهغی له پیښیدلو نه وروسته دمال دبیی په توپیر پوری محدود دی .

مال تحت بیمه استیفاء نماید مال تحت بیمه غرض تامین حقوق شرکت بیمه درحکم رهن قرار داشته، تادیه حقوق شرکت بیمه از مال مذکور نسبت به سایر دائینین مقدم شناخته میشود .

(فهرست) حدود حق البیمه برای انواع مختلف عقود بیمه از طرف وزارت تجارت ترتیب وبه اطلاع شرکتهای بیمه رسانیده میشود .

## فصل پنجم

## بدل بیمه

### ماده سی وچهارم

بدل بیمه بتناسب موضوع بیمه تعیین میگردد هرگاه در طول اعتبار مقاوله بیمه ارزش مال مورد بیمه بیش ازده فیصد تنزیل نماید شرکت بیمه حق دارد بدل بیمه را متناسباً تقلیل دهد در اینصورت حق البیمه خود بخود بعین تناسب تنزیل مینماید.

### ماده سی وپنجم

مسئولیت شرکت بیمه محدود به تفاوت قیمت مال قبل از حادثه وبلا فاصله بعد از وقوع آن میباشد .

**شپږ دیرشمه ماده –**

د بیمې شرکت دبیمې بدل په نغد دول ورکوی مگر داچه په مقاوله کی دجنس ورکړه او یا دمال معاوضه پیشبیني شوی وی. په وروستی صورت کښې دبیمې شرکت خپل مکلفیت په هغه موده کښې دننه چه دعرف او تعامل له نظره دتائیدوړوی پای ته رسوی .

**اوه دیرشمه ماده**

دحمل ونقل په بیمه کښې دبیمې بدل دحمل ونقل په اجرت او نورو هغو لگښتو کښې شامل دی چه د شیانو دنقل لپاره پکار اچول کیږی دمال دبیې ټاکل په مرجع کښې دمال دبیې په اساس صورت مومی .

**اته دیرشمه ماده**

دپیښو په بیمه کښې دتداوی لگښت هم دبیمې په بدل کښې شامل وی .

**نه دیرشمه ماده**

داور په بیمه کښې دودانی یابناء په بیې برسیره چه د(۳۵) مادی دتوضیع سره سمه ټاکله کیږی لاندې خسارات هم په اوښتی زیان کښې شامل دی .

۱– نورو مالونو ته دهغو اقداماتو په نتیجه کښې اوښتی زیانچه داور دوژلو لپاره صورت مومی .

**ماده سی وششم**

شرکت بیمه بدل بیمه را نقدا تادیه میدارد. مگر آنکه در مقاوله پرداخت جنس یا معاوضه مال پیشبینی شده باشد در صورت اخیر شرکت بیمه مکلفیت خودرا در داخل مدتیکه از نگاه عرف وتعامل قابل تائید باشد انجام میدهد.

**ماده سی وهفتم**

در بیمه حمل ونقل بدل بیمه شامل اجرت حمل ونقل وديگر مصارفی میباشد که جهت نقل اشیاء بکار برده میشود تعیین قیمت مال باساس قیمت آن در مرجع صورت میگیرد .

**ماده سی وهشتم**

در بیمه حوادث بدل بیمه شامل مصارف تداوی نیز میباشد .

**ماده سی و نهم**

در بیمه حریق خساره وارده علاوه برقیمت عمارت یا بناء که طبق توضیح ماده (۳۵) تعیین میگردد شامل خسارات ذیل نیز میباشد :

۱– خسارات وارده به سایر اموال در نتیجه اقداماتی که جهت اطفای حریق صورت میگیرد .

٢ـ بولو هغو ودانيو ته اوښتي زيان چه داور دخپريدو نه دمخنيوي دپاره ورانيږي .

## شپږم فصل

### دمسؤليت دمواردو ټاکنه

### څلويښتمه ماده

دبيمې شرکت دعقد دانعقاد له نيټې نه دهغه زيان دجبران مسؤليت چه په رښتيا سره مشتري ته اوړي، په غاړه اخلي .

دنقلياتو په بيمه کې دغه مسؤليت دمال دتسليمي له نيټې نه، مرسل اليه ته دوړکولو تر وخته پورې دوام کوي .

### يو څلويښتمه ماده

دبيمې شرکت دهغو زيانونو په جبران چه دمشتري له تقصير او حيلې څخه راولاړ شوي وي، مکلف ندي .

همدا رنګه دبيمې شرکت دهغو زيانونو دجبران مسؤل نه دی چه دمال له ذاتي عيب نه منځ ته راغلي وي، په دې شرط چه خلاف يې په عقد کښې نه وي ذکر شوي .

### دوه څلويښتمه ماده

مشتري مکلف دی چه دهغه خطر يا پيښې د خبريدو له نيټې نه چه په مقاوله کښې يې يادونه شويده په

٢ـ خسارات وارده بـه ساير عمارات که جهت جلوگيري ازشيوع حريق تخريب ميگردد .

## فصل ششم

### تعين موارد مسؤوليت

### ماده چهلم

شرکت بيمه از تاريخ انعقاد عقد مسوو ليت جبران ضرري را که حقيقتا به مشتري وارد ميگردد ، بر عهده ميگيرد .

در بيمه نقليات اين مسئو ليت از تاريخ تسليم گرفتن مال الی زمان تحويل دادن بمرسل اليه دوام ميکند .

### ماده چهل ويکم

شرکت بيمه به جبران خساراتيکه از تقصير وحيلهٔ مشتري نشأت نمايد مکلف نميباشد .

همچنان شرکت بيمه مسوول جبران خساراتي که از عيب ذاتي مال بوجود می‌آيد شناخته نميشود مشروط براينکه خلاف آن درعقد ذکر نشده باشد .

### ماده چهل ودوم

مشتري مکلف است در ظرف پنج روز ازتاريخ وقوف به خطرو يا حادثه ايکه درمقاوله بيمه تذکر رفته شرکت

پنځه ورځو کښی دننه دبیمی شرکت خبر کاندی‌کنه دبیمی‌شرکت به کوم مسؤلیت ونه‌لری ،مګردا چه مشتری ثابته کړی چه دغه اقدام د هغه له ارادی دباندی علتونو په سبب ممکن او مقدور نه‌ؤ .

همدا رنګه مشتری مکلف دی چه دزیان دپیښیدلو نه دمخنیوی لپاره اوهم دهغه دکمولو او سپکولو لپاره هغه څارنه چه معمولا دمال خاوند د خپل مال په هکله کوی، بای ته ورسوی او لازم تدبیرونه ونیسی .

په داسی حالاتو کښی چه دمشتری اقدامات نتیجه نه ورکوی هغه مکلف دی چه د بیمی شرکت خبر کاندی .

### دری څلویښتمه ماده

د (٤١-٤٢) مادو په مواردو کښی دمشتری تقصیر دبیمی د شرکت مسؤلیت لری کوی .

### څلور څلویښتمه ماده

که چیری په دریمه ماده کښی مندرجی پیښی او خطرات د مشتری دمړینی سبب شوی وی دبیمی بدل دهغه شرعی ورثی ته ور کول کیږی .

### پنځه څلویښتمه ماده

که چیری په مقاوله کښی په کوم بل ډول نه‌وی ښکاره شوی، دبیمی

بیمه را مطلع سازد درغیرآن شرکت بیمه مسئولیتی نخواهد داشت مگر انکه مشتری ثابت‌نماید که‌این‌اقدام بنابر علل‌خارج اراده اوممکن‌ومقدور نبوده است .

هکذاء مشتری مکلف است برای جلوگیری ازوقوع خساره وهم‌جهت تنقیص وتخفیف آن مراقبتی را که معمولا صاحب‌مال درمورد مال‌خودش مبذول میدارد انجام، وتدابیر لازم‌را اتخاذ نماید .

درچنین حالات اگر اقدامات مشتری نتیجه مثبت‌نمیدهد اومکلف میباشد که شرکت بیمه را واقف سازد .

### ماده چهل وسوم

تقصیر مشتری در مورد مندرج مواد (٤١-٤٢) مسئو لیت شرکت بیمه را مرفوع میسازد .

### ماده چهل وچهارم

هرگاه حوادث‌وخطرات‌مندرج ماده (۳) باعث فوت مشتری شده باشد بدل بیمه به ورثه شرعی اوپرداخته میشود .

### ماده چهل وپنجم

اگر در مقاوله طور دیگری‌تصریح نشده باشد مسئولیت شرکت بیمه

دشرکت مسؤ لیت په فورس ماژور حالاتو کښې له منځه ځي. ددغو حالاتو اثبات دبیمې دشرکت په غاړه دی.

## شپږ څلویښتمه ماده

دبیمې دبدل د ورکړې نه وروسته دبیمې شرکت حقوقا دمشتری دقایم مقام اهلیت حاصلوي ، دثالثو اشخاصو (حقیقي او حکمي) په خلاف دمشتری حقوق او مطالبات دبیمې شرکت ته انتقال کوي .

که چیری مشتری داسې عمل چای ته ورسوي چه دبیمې دشرکت دحق منافي وي، مسؤل به وي .

## اوم فصل

## دمقاولې فسخ او بطلان

## اوه څلویښتمه ماده

په لاندې مواردو کښې دبیمې مقاوله باطله ګڼل کیږي .

۱ــ که چیری مشتری دعقد په وخت کښې د خطر له پیښیدو نه خبروي .

۲ــ که دبیمې شرکت دعقد په وخت کښې دخطر د پیښیدلو له نه امکان نه خبروي .

۳ــ که چیری مشتری عمدا او په بدنیت دمال بیه دمعمول حدنه زیاته قلمداده کړي وي .

درحالات فورس ماژور ازبین میرود اثبات این حالات برعهده شرکت بیمه میباشد .

## ماده چهل وششم

بعد از تادیه بدل بیمه شرکت بیمه حقوقا سمت قایم مقام مشتری را حاصل نموده حقوق و مطالبات مشتری علیه اشخاص ثالث (حقیقی وحکمی) به شرکت بیمه انتقال میکند .

اگر مشتری عملی را انجام دهد که منافی حق شرکت بیمه باشد مسئول خواهد بود .

## فصل هفتم

## فسخ وبطلان مقاوله

## ماده چهل وهفتم

در موارد آتی مقاوله بیمه باطل شناخته میشود .

۱ــ هر گاه مشتری هنگام عقد ازوقوع خطر واقف بوده باشد .

۲ــ هرگاه شرکت بیمه هنگام عقد ازعدم امکان وقوع خطر اطلاع داشته باشد .

۳ــ هرگاه مشتری عمدا و باسؤ نیت قیمت مال را از حدود معمول بیشتر قلمداد نموده باشد .

۴ــ که چیری مشتری عمداً دعقو مطالبو له ښکاره کولونه ډډه کړی وی اویا په دروغجنو اظهاراتو یی لاس پوری کړی وی، په داسی ډول چه نه‌بیان شوی مطالبو او دروغجنو اظهاراتو دپیښی یاخطر ماهیت ته تغیر ورکړی‌وی اویایی اهمیت کم کړی‌وی .

۵ــ که چیری هغه خطر چه بیمه کیږی دمقاولی له عقد نه رومبی‌پیښ شوی‌وی .

**اته څلویښتمه ماده**

په لاندی حالاتو کښی دبیمی مقاوله فسخ کیږی .

۱ــ که چیری دخطر د پیښیدلو امکان نوری شی .

۲ــ که چیری مشتری تاکلی حق البیمه پخپل وخت ورنه کاندی په دی صورت کښی دبیمی شرکت دراجستری لیك په واسطه دموضوع نه خبر ورکوی. که چیری مشتری دراجستری لیك داخستلو له نیټی نه دیوی میاشتی په‌اوږدو کښی‌نوموړی ونه‌ورنه کړی، دبیمی شرکت‌کولای شی چه مقاوله فسخ کاندی .

۳ــ د واکمنی محکمی داعلان له نیټی نه دبیمی دشرکت اویا مشتری افلاس .

۴ــ هرگاه مشتری عمداً ازاظهار مطالبی خود داری نموده یابه اظهارات کاذبه پرداخته باشد، قسمیکه‌مطالب بیان‌ناشده واظهارات کاذبه ماهیت حادثه یاخطرراتغییر داده یا اهمیت آنرا کاسته باشد .

۵ــ هرگاه خطریکه بیمه میگردد قبل از عقد مقاوله وقوع یافته باشد .

**ماده چهل وهشتم**

مقاوله بیمه در حالات آتی فسخ میگردد .

۱ــ هرگاه امکان وقوع‌خطر ساقط گردد .

۲ــ هرگاه مشتری‌حق‌البیمه معینه را بموقع آن نپردازد دراینصورت شرکت بیمه موضوع را توسط مکتوب راجستری اطلاع میدهد اگر مشتری در طول یکماه از تاریخ تسلیمی مکتوب راجستری سهیمه مذکور را نپردازد شرکت بیمه میتواند مقاوله را فسخ نماید .

۳ــ افلاس‌شرکت‌بیمه ویامشتری ازتاریخ اعلان محکمه ذیصلاح .

# جریدهٔ رسمی

٤ـ دمال دموقعیت او یا د پیښې اویا خطر دماهیت تغییر که دمشتری دعمل څخه راولاړ شوی‌وی اویا په بل علت پیښ شی، په هغو شرایطو کښې چه که دعقد په وخت کښې موجود وو دمقاولې د انعقاد مخنیوی یې کاوه نوکه هغه خوا چه نوی شرایط یې په زیان تمامیږی تر لسو ورځو پورې دمقاولې دفسخ کولو په بناء خپل حق څخه استفاده ونه کړی دفسخې علت‌له منځ نه‌ځی.

د بیمې قسطونو اخستل او یا دزیانونو ورکول به دمقاولې ددوام په بناء دبیمې د شرکت په اراده دلالت وکړی .

٥ـ که چیری مشتری دبیمې د عقد دانعقاد په وخت کښې بې له‌قصده ځینې مطالب بیان نه کړی، او یا داسې مطالب بیان کړی چه رښتیا نه‌وی په داسې ډول چه ، نه بیان شوی مطالبو او دروغجنو اظهاراتو دخطر ماهیت تغییر کړی وی او یایې اهمیت کم‌کړی وی ،پدې صورت‌کی‌که نه بیان شوی مطالب اویا دحقیقت‌په خلاف مطالب دخطر له پیښیدو نه دمخه ښکاره شی، دبیمې شرکت به حق ولری چه اضافی حق البیمه وغواړی .که‌مشتری‌داضافی‌حق‌البیمی په‌ورکړه موافقیت ونه‌کړی، شرکت

٤ـ تغییر مو قعیت‌مال ویاماهیت حادثه وخطر،چه‌ناشی ازعمل مشتری باشد چه بعلت دیگری پیش شود، درشرایطیکه اگر هنگام عقد .وجود میداشت مانع انعقاد مقاوله میشد . در اینصورت اگر طر فیکه شرایط جدید مقاوله به ضرر اوتمام میشود تاده روز بعداز اطلاع از حق خو د مبنی بر فسخ مقاوله استفاده نکند علت فسخ از بین میرود .

اخذ اقساط حق‌البیمه ویاپرداخت خسارات دلالت براراده شرکت‌بیمه مبنی بـر ادامـه مقاوله خـواهد نمود .

٥ـ هرگاه مشتری هنگام انعقاد عقد بیمه بدون داشتن قصد مطالبی رااظهار نکند ویا مطا لبیرا اظهار نماید که خلاف حقیقت باشدطوریکه مطالب بیان ناشده واظهارات کاذبه ماهیت‌خطر راتغییر داده یا ازاهمیت آن کاسته باشد در این صورت اگر مطالب اظهار ناشده یا مطالب‌خلاف حقیقت قبل از وقوع خطر ظاهرشود شرکت بیمه حق خواهد داشت تا حق‌البیمه اضافی را در خوا ست کند اگر مشتری بتادیه حق البیمه

کولای شی چه مقاوله فسخ کاندی .

دفسخې په صورت کښې حق‌البیمه مشتری ته بیرته ور کول کیږی .

٦ــ که چیری دهمدی مادی په‌پنځمه فقره کښې مندرج نه بیان شوی مطالب اویاد واقعیت په‌خلاف مطالب دبیمې دخطر دپیښیدلو نه وروسته ښکاره شی، دحق‌البیمی اندازه او دغه خساره چه مشتری ته ورکول کیږی، داسې تاکل کیږی چه گویا دواړه خواوو د خطر له څرنګوالی څخه خبر درلود .

٧ــ که چیری مشتری مړ شی او ورثه اویاد بیمې شرکت حاضر نشی چه مقاوله اوږده کاندی .

٨ــ که چیری مشتری بیمه شوی مال بل چاته منتقل کړی او هغه څوك چه مال ورته منتقل شوی اویا دبیمې شرکت حاضر نشی چه‌مقاولې ته ادامه ورکړی .

په دی صورت کښې اوهم دهمدې مادې د (٧) فقری مندرج حالت کښې دواړه خواوی له مړینې یادمال له انتقال نه وروسته تر یوې میاشتی پوری کولای شی چه مقاوله فسخ کړی .

اضافی موا فقت نکند شرکت‌میتواند مقاوله را فسخ کند .

در صورت فسخ حق‌البیمه اخذ شده به مشتری مسترد میگردد .

٦ــ در صور تیکه مطالب اظهار ناشده یا اظهارا ت خلاف وا قعیت مندرج‌فقره (٥) این‌ماده بعد ازوقوع خطر یا حادثه‌ظا هر گردد اندازه‌حق البیمه‌وخسارا تیکه به‌مشتری‌پر داخته میشود طوری تعین میگردد که گویا طرفین از چگو نگی خطر اطلاع میداشتند .

٧ــ هرگاه مشتری فوت کند وورثه یاشرکت بیمه حاضر نگردد مقاوله را تمدید نماید .

٨ــ هرگاه مشتری مال مورد بیمه را بشخص دیگری منتقل سازد ومنتقل الیه یا شرکت بیمه حاضر نگردد مقاوله را ادامه‌دهد .

در ینصورت وهم درحالت مندرج فقره (٧) این ماده طرفین تایکماه‌بعد ازفوت یا انتقال مال میتواند مقاوله رافسخ کنند .

### نهٔلویښتمه ماده

دحمل ونقل په‌بیمه‌کی دمواصلاتی کرښو یا نقلیه وسایطو بدلون دمقاولی دفسخ کولو موجب کیږی. مگر داچه ددواړو خواو ترمنځ دنوموړی تغیرپه هکله موافقیت حاصل شوی وی.

### اتم فصل

### متفرقه مـواد

### پنځو سمه ماده

دبیمی دعقدونو په هکله د دعواو انفصال، د مقاولی دمندرجاتو سره سم او په هغه صورت کښی چه‌په مقاولــه کښی یادونه نــه وی شوی ددغه‌قانون اودتجارت‌دقانون داحکامو سره‌سم دهغی تجارتی محکمی یـا دیوان له واکونو څخه دی چه دبیمی دشرکت مقریایی نمایندگی دهغی په حوزه کښی واقع وی .

محکمی ته دشخړی لــه وړاندی کولو نه دمخه دواړه خوا وی کولای شی چــه خپل دنظــر اختــلاف د منځگړ یـتوب لــه لاری فـیصله کاندی .

### یــو پنځو سمه ماده

دبیمی داختلا فاتو څخه دراپورته شویو دعواو د تیریدو وخت (مرور- زمان) دوه‌کاله دی.د نوموړی مودی‌د شروع کیدو نیټه د پیښی پیښیدل

### ماده چهل ونهم

در بیمه حمل ونقل تغییر خطوط مواصلاتی ویا تغییر و سایل نقلیه موجب فسخ مقاوله میگردد. مگرانکه در بین طرفین راجع‌به تغییر مذکور موافقت حاصل شده باشد .

### فصل هشتم

### مواد متفرقه

### ماده پنجاه ام

انفصال دعاوی مربوط به عقود بیمه مطابق مندرجات مقاوله ودرصورتیکه در مقاوله تذکر نرفته باشد طبق احکام این‌قانون وقانون تجارت ا ز صلاحیت‌محکمه یادیوان تجارتی‌است که مقر شرکت یا نمایندگی‌بیمه‌داخل حوزه آن واقع باشد .

قبل‌از ارائه‌نزاع به محکمه‌طرفین میتوانند اختلاف‌نظر خودرا ازطریق حکمیت فیصله نمایند .

### ماده پنجاه ویکم

مرور زمـان دعـا وی نـاشی از اختلافات‌بیمه دوسال میباشد تاریخ آغاز معیاد مذکور روز وقوع حادثه

گڼل کیږی. هغه دعواوی چه ددغه قانون دانفاذ په وخت کښې په‌جریان کښې دی ددی مادی له حکم لاندی‌نه راځی .

## دوه‌پنځو سمه ماده

ددغه قانون موادو څخه دبیمی د شرکت دکار کوونکو سر غړول د مامورینو دجزا او جرمونو او عامه کتهو او امنیت په خلاف دجرمونو د قانون تابع دی .

## دری پنځوسمه ماده

دتجارت وزارت کولای شی چه ددغه قانون دتطبیق‌په منظور ځانگړی لایحی وضع کاندی .

## څلور پنځو سمه ماده

هغه موسسی چه ددغه قانون له انفاذ نه‌دمخه دبیمی په‌فعالیت بوختی دی‌ددغه قانون‌دمند رجو شرطونو د پوره کولو اود دغه قانون دانفاذ له نیټی نه وروسته په یوه کال کښې دنوی جواز داخستلو په شرط ، کولای شی چه خپل فعالیت ته ادامه ورکړی. ددغه کار لپاره یو غوښتن لیك دتجارت وزارت ته سپاری. د تجارت وزارت دغوښتن لیك له نیټی نه په شپیته ورځو کښې دننه دهغه دمنلو یار دولو پــه بنا خپل تصمیم نیسی .

شناخته میشود دعاوی که موقع نفاذ این قانون در جریان اند تحت حکم این ماده قرار نمیگیرند .

## ماده پنجاه ودوم

تخلف کار مندان شرکتهای بیمه ازمواد این قانون تابع قانون جزای جرایم مامورین وجرایم علیه منفعت وامنیت عامه است .

## ماده پنجاه وسوم

وزارت تجارت میتواند بمنظو ر تطبیق این قانون لوایح جدا گانــه وضع نما ید .

## ماده پنجاه وچهارم

مو سسا تیکه قبل از انفاذ این قانون بفعالیت‌بیمه اشتغال دار نـــد مشروط به تکمیل شرایط منــدر ج این قانون واخذ جواز جدیــد د ر ظرف یکسال بعد از تاریخ انفاذ این قانون میتوانند به فعالیت خود ادامه دهند برای‌اینکار درخواستی بوازرت تجارت میسپارند ،وزارت تجارت‌در ظرف شصت روز از تار یخ تقدیم درخواست تصمیم خودرا مبنی بــر قبول یاردآن اتخاذ مینمــا یـــد .

### پنځه پنځو سمه ماده

هغه مؤسسې چه دهغو دجواز د نوي کیدلو سره موافقه نه کیږي مکلفې به وي چه مربوطې چارې دتجارت د قانون سره سمې تصفیه کاندي .

### شپږ پنځو سمه ماده

دغه قانون په شپږو پنځوس مادو کښې ترتیب او په رسمي جریده کې یې لهخپریدو وروسته نافذیږي ، په نفاذ سره یې دتجارت دقانون له ۸٦٦مادې نهتر ۹٤۲ مادې پورې ملغی ګڼل کیږي .

### ماده پنجاه وپنجم

موسسات تیکه بهتجدیدجواز آنها موافقه نمیشود مکلف خواهند بود امور مربوط را طبق احکام قانون تجارت تصفیه نمایند .

### ماده پنجاه وششم

این قانون در پنجاه شش ماده ترتیب وبعد از نشر آن درجریده رسمي نافذ میگردد با نفاذ آن مواد (۸٦٦ـ الی ۹٤۲) قانون تجارت ملغی شناخته میشود .

# اعلانات وثبت علایم تجارتی

**به سلسله اعلانات قبلی منتشره جریده رسمی‌موسسه (اوهون‌پولنگ تکشنیل) که مرکز اصلی آن در شهر (پاریس) مملکت (فرانسه) به ادرس ذیل واقع است .**

Rhone-Poulence-Textile, Paris 8e France.

علامت منسوبه خودرا که عبارت ازچهار علامات)

**(RHOVYL**

Crylor

NYLON

NYLFRANCE

TERGAL

بوده وقبلا قرار اظهار نامه (۹۳۲ – ۱۳۳۲– ۱۳٤۰ و ۱۳٤۱ تاریخی تحت شماره ۲۸۸و۳٦۷و۳۷۵و۳۷٦ برای مدت ده سال ثبت گردیده بود چون میعاد حمایه آن ختـم میگردد بموجب اظهار نامه (۱۸۰٤تا۱۸۰۷) تاریخی ۲۹ر۷ر۵۳ علامت مذکور طبق ماده (۱۷) اصولنامه ثبت‌علایم تجارتی برای مدت ده سال دیگر تمدید گردید .

به سلسله اعلانات قبلی منتشره جریده رسمی‌موسسه (فاسیندلمیتد که‌مرکز اصل آن‌درشهر (مانچستر) مملکت (انگلیستان ) به ادرس زیل واقع است .

Cussons (international) Limited manchester, England.

علامه منسو به خود را که عبار ت ازعلامت ذیل

Cussons

بوده وقبلا قرار اظهار نامه نمبر (۱٤۲۳) تاریخی ۲۲ر۱۰ر ٤۳ تحت شماره (۳۸۸) در طبقات (۳) برای مدت‌ده سال ثبت گردیده بود چون میعاد حمایه مذکور بتاریخ ۲۲ر۱۰ر ۱۳۵۳ ختم‌میگردد بموجب‌اظهارنامه (۱۸۰۲) تاریخی ۲۹ر۷ر ۵۳ علامت مذکور طبق ماده (۱۷) اصولنامه ثبت علایم تجابتی‌برای مدت ده‌سال دیگر تمدید گردید .

## دکلهون بیه

| | |
|---|---|
| په کابل کښې | (۲۲۰) افغانی |
| پەولایاتو کښې | (۲٤۰) افغانی |
| دپو هنی شاگردانوته | نیمه بیه |
| پەباندنیو هیوادو کښې | (۱۰) امریکائیدالره |

ددی گڼې بیه: «۳۰» افغانی

THE REPUBLIC OF AFGHANISTAN

# OFFICIAL GAZETTE

ISSUE NO. 289

DATE: DECEMBER 21, 1974

ADDRESS: MINISTRY OF JUSTICE
KABUL, AFGHANISTAN
EDITOR: M. H. TUGHYAN.

ASSISTANT EDITOR: A. HABIB AMIN

شماره (۲۲)

تعداد طبع (۲۵۰۰) نسخه

تاریخ : شنبه «۳۰» قوس ۱۳۵۳

دولتی مطبعه